نظرمحمد مطمئن ۲۰۱۳/۰۹/۱۱

# د پاکستان له زندان څخه خوشي شوي۷ طالبان څوک دي

د روان کال د وري پر ۱۶مه رسنيو راپور خپور کړ چي پاکستان ته د ولسمشر کرزي د سفر پرمهال پاکستاني چارواکو ژمنه کړي وه چي ځيني لوړ پوړي طالب بنديان به د پاکستان له زندانونو څخه خوشي کوي، د هغې ژمني پر بنياد يي اوه تنه طالب زندانيان خوشي کړل.

د دغو خوشي شوو زندانيانو په اړه د افغان دولت غبرګون ډير سوړ او وروسته يي وويل چي پاکستان هغه طالبان نه دي خوشي کړي کوم چي افغان دولت يي غوښتنه کړي وه.
افغان دولت له تيرو دوو کلونو راهيسي ډيره هڅه کوي چي ملاعبدالغني برادر د پاکستان له زندان څخه خوشي او افغان دولت ته وسپارل شي.

داسي هم ويل کيږي چي ملابرادر آخند ته به ويل شوي وي چي که د پاکستان او افغان دولت غوښتني ومني او دقطر پر ځای د ده له پاره په بېل او جلا نوم په اماراتو کي د طالبانو استازی دفتر خلاص شي، ولي ملابرادر به د پاکستان او افغان دولت همدغه شرط ته د منفي ځواب ويلو له امله په بند کي ساتل کيږي.
داسي ګنګوسي هم دی چي افغان دولت هڅه کوي چي ملابرادر او ملامعتصم آغان جان په ګډه د منځلارو طالبانو په نوم کار وکړي، او په دوبۍ کي د طالبانو سياسي او استازی دفتر ورکول شي.
زما په آند چي ملابرادر آخند به نه د طالبانو څخه پريکون ومني او نه به هم د ملامعتصم آغا جان سره په ګډه د منځلارو طالبانو په نوم يوځای کېدل او په دوبۍ کي دفتر خلاصيدل ومنی. همدغه لاملونه دی چي د ملابرادر آخند د بند موده هر ځل زياتيږي او له بند څخه نه خوشی کيږي.

اوسني اوه طالب بنديان چي خوشي شوي، څلور تنه يي پيژندل شوي کسان دی چي ملاعبدالمنان د هلمند ولايت نظامي مسؤول وو، او همدغه ملاعبدالمنان يو وخت برتانويانو ته يو ليک هم ليږلي وو چي په هغه وخت کي رسنيو خپور کړی وو، بل تن کريم آغا د مشهور ملا عبدالله ذاکري زوی دی، دريم تن ملامحمد زی آخند دی چي د زنداني کېدو څخه مخکي يو وخت د کندهار ولايت نظامي مسؤول وو، او څلورم يي منصور داد الله د ملاداد الله کشر ورور دی، د ملا داد الله د وژلو په تور يي دوه طالبان په دي نامه اعدام کړل چي دوی يي د ورور قاتلان دی، په داسي حال کي چي هغوی بې ګناه وو، له همدي امله وه چي په هغه وخت کي د طالبانو د مشر ملامحمد عمر مجاهد له خوا وشړل شو، او وروسته منصور داد الله د برتانوی جاسوس مايکل سمپل سره اړيکي ونيولي اودهغه سره يي انډيوالی شوه، اوځيني داسي کارونه يي هم وکړل چي د طالبانو دتګلاري سره ښکاره مخالفت وو.

منصور داد الله د پاکستان د بلوچستان ولايت د پشين په سيمه کي د پاکستاني پوليسو سره لفظي شخړه وکړه، خبره دي ته ورسيده چي د پاکستاني پوليسو له خوا پري ډزي وشوي او بالاخره منصور داد الله ونيول شو.

دري نور کسان چي سيد ولي، ګل محمد او شيرافضل دي، په اړه يي ډير معلومات نشته، داسي هم ويل کيږي چي ممکن دغه نومونه به مستعار نومونه وي، که د دوی اصلي نومونه وښودل شي بيا به يي په اړه معلومات هم رابرسيره شي.

د طالبانو له خوا هم د ۷ تنه خوشي شوو بنديانو په اړه غبرګون هغه ډول نه دی لکه چي تير کال يي د ملانورالدين ترابي او ملګرو د خلاصون په اړه وو. طالبانو تر دي دمه يي د اوه تنو خلاص شوو بنديانو په اړه کوم رسمي غبرګون نه دی ښودلی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

له اوه تنه خوشي شوو طالب بنديانو څخه مخکې هم ۲۶ کسان د طالبانو په نوم د پاکستان حکومت خوشي کړل، له خوشي کېدو وروسته د هغوی د ځای ځایګي په اړه هيڅ معلومات نشته.

په ښکاره خو د پاکستان له خوا د بنديانو ازادول د سولې د پروسې سره د مرستي او افغان حکومت سره د ښه نيت له امله کېږي، ولې شنوونکي پر دې نظر دي، هغه طالبان چې په هيواد کې دننه د بهرنيو سره جنګيدلي وي، په پاکستان کې يې په زندانونو کې شکنجې تيرې کړې وي، له دغو بنديانو څخه دغه ډول توقع کول چې د افغان دولت د سولې پروسې، دافغان حکومت سره او يا هم د بېلو شوو څو تنو طالبانو سره يوځای شي، شوني نه ښکاري.

تر ټولو مهمه دا ده چې د بند په موده کې طالب بنديان د هيواد په اړه له روانو جرياناتو څخه ناخبره پاتي شوي، دا ډول د طالب مشرانو سره هم بې رابطې پاتې شوي وي، له همدې امله ده چې خوشي شوی بنديان به وخت ته اړتيا ولري ترڅو د هيواد له روانو جرياناتو ځان خبر او دا ډول له خپلو هم فکره او هم نظره ملګرو سره به تر مشورې وروسته پريکړه کوي، چې په کور ارام کښيني، بياځل د بهرنيو  او افغان دولت په ضد فعاليت کې برخه واخلي، او يا داچې يواځې خپلې مشورې له طالب مشرانو سره شريکې کړي، خو د دې  امکان ناشونی برېښي چې له دولت او يا هم دولت پلوه ډلو سره به يوځای شي.

د پاکستان له زندانو څخه پخواني خوشي شوي طالب مشران ډيری يې پر کورونو کښيناستلو ته ترجيح ورکړي.
زه د پاکستان له جيلونو څخه دافغانانو خلاصون ښه ګڼم، هر افغان چې د پاکستان له زندان څخه خلاصيږي، دا يو ښه خبر دی، او ټول شکيل لوري بايد چې پرته له سياسي او ګوندي ګټو په نظر کې نيولو د پاکستان له جيلونو څخه د افغانانو د خلاصون هڅې وکړي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ